# شتمني SHTAMANI

اوونیزه

تأسیس: ۱۳۹۴ ل ل

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**ژباړه:** په جماعت سره د یوه سړي لمونځ کول، د هغه د یواځې لمانځه په پرتله اووه ویشت درجې فضیلت او غوره والی لري. [سنن ابن ماجه(۷۸۹)]

ترجمه: آدا کردن نماز یک شخص با جماعت، برتری و فضیلت بیست‌وهفت درجه نسبت به آدا کردن نماز به صورت انفرادی دارد. [سنن ابن ماجه(۷۸۹)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست له لوري)


ربیع الثانی ۹ -۱۴۴۸ ل س | د وږي ۳۱ -۱۴۰۵ ل ل | د سپتمبر ۲۲ -۲۰۲۶ز | شپږم کال | ۱۷۰ گڼه | ٤ مخیزه | ۱


## د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمانونو لړۍ

### د واده په اړوند امورو کې د رعایت وړ ټکي

**لومړۍ ماده:**

۶- کوم مهر، چې په نکاح کې ښځې ته ورکول کېږي، هغه د ښځې حق دی او څوک یې نه شي ترې اخیستلای، په دې هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د (۱۴۴۳/۴/۲۷ هــ.ق) نېټې د (۸۳ج ۱) ګڼه د ښځو د حقونو فرمان.

۷- که څوک په کومه نجلۍ یا ښځه دزې وکړي، یا یې پیکی پرې کړي او یا څادر پرې واچوي، په دې او یا په بلې طریقې سره په جبري توګه هغه خپله ښځه وګڼي، دا غیر شرعې عمل او جرم دی، داسې اشخاص دې د اسلامي امارت محاکمو ته معرفي کړل شي؛ ترڅو د خپل جرم په سزا ورسېږي

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سرمقاله

### ترازوهای دیجیتلی زمینه‌ساز روند گمرکی شفاف

یکـی از تجهیـزات مهـم و ضروری در گمـرکات، تـرازوی دیجیتلـی اسـت کـه می‌توانـد در تعییـن دقیـق وزن وسـایط و محموله‌هـا نقـش مهمـی داشـته باشـد. نصـب ترازوهـای دیجیتلـی باعـث می‌شـود وزن وسـایط و کالاهـا به‌صـورت دقیـق و قابـل ثبـت اندازه‌گیـری شـود. برخـلاف ترازوهـای سـنتی کـه ممکـن اسـت در اندازه‌گیـری بـا خطـا مواجـه شـوند، ترازوهـای دیجیتلـی قابلیـت ثبـت دقیـق وزن و ارائـه اطلاعـات روشـن را دارنـد. ایـن موضـوع می‌توانـد از اختلافـات میـان تاجـران، راننـدگان و کارکنـان گمـرک جلوگیـری کـرده و رونـد بررسـی محموله‌هـا را شـفاف‌تر سـازد. یکـی از مزایـای مهـم ترازوهـای دیجیتلـی، کمـک بـه جلوگیـری از کم‌اظهـاری وزن کالاهـا و سـایر تخلفـات مرتبـط بـا وزن محمولـه اسـت. هنگامـی کـه وزن واقعـی یـک وسـیله و محمولـه بـه شـکل دقیـق ثبـت شـود، امـکان مقایسـه آن بـا اسـناد و اظهارنامـه گمرکـی فراهـم می‌شـود. ایـن امـر می‌توانـد در جلوگیـری از ضایع‌شـدن عوایـد دولـت و افزایـش انضبـاط در رونـد گمرکـی مؤثـر باشـد. وزن کالاهـا در بسـیاری از مراحـل محاسـبه حقـوق و محصـول گمرکـی اهمیـت دارد. ثبـت دقیـق وزن می‌توانـد زمینـه را بـرای محاسـبه درسـت محصـول و حقـوق گمرکـی فراهـم کنـد و از کاهـش غیرواقعـی وزن محموله‌هـا جلوگیـری نمایـد. بنابرایـن، نصـب ترازوهـای دیجیتلـی می‌توانـد یکـی از اقدامـات مؤثـر بـرای حفـظ و افزایـش عوایـد گمرکـی باشـد. اسـتفاده از سیسـتم‌های دیجیتلـی و ثبـت الکترونیکـی وزن می‌توانـد وابسـتگی رونـد اندازه‌گیـری بـه تصمیـم و تشـخیص فـردی را کاهـش دهـد. اگـر اطلاعـات تـرازو بـه سیسـتم‌های گمرکـی متصـل و قابـل نظـارت باشـد، امـکان تغییـر یـا دسـت‌کاری اطلاعـات نیـز کاهـش می‌یابـد. از ایـن جهـت، دیجیتلی‌سـازی رونـد وزن‌گیـری می‌توانـد در راسـتای افزایـش شـفافیت و مبـارزه بـا فسـاد اداری مـورد اسـتفاده قـرار گیـرد. ترازوهـای دیجیتلـی مـدرن می‌تواننـد رونـد وزن‌گیـری وسـایط باربـری را سریع‌تـر کننـد. ثبـت خـودکار اطلاعـات و اتصـال تـرازو بـه سیسـتم‌های گمرکـی، در صـورت فراهم‌بـودن زیرسـاخت‌های لازم، می‌توانـد از ثبـت دسـتی اطلاعـات جلوگیـری کـرده و زمان توقف وسـایط در گمرک را کاهش دهد. کاهـش زمـان توقـف وسـایط، عـلاوه بـر رضایـت تاجـران و راننـدگان، می‌توانـد بـه افزایـش ظرفیـت عملیاتـی گمـرکات نیـز کمـک کنـد. یکـی دیگـر از مزایـای نصـب ترازوهـای دیجیتلـی، ایجـاد اطلاعـات دقیـق و قابـل اسـتفاده بـرای مدیریـت گمرکات اسـت. اطلاعـات ثبت‌شـده می‌توانـد بـرای بررسـی میـزان ورود و خـروج کالا، وزن مجموعـی محموله‌هـا، شناسـایی مـوارد غیرعـادی و تهیـه گزارش‌هـای آمـاری مـورد اسـتفاده قـرار گیـرد. در صـورت ایجـاد یـک سیسـتم یـک پارچـه، مدیریـت گمـرک می‌توانـد اطلاعـات وزن‌گیـری را بـه شـکل منظـم و شـفاف بررسـی و نظـارت کنـد. بنابرایـن، تجهیـز گمـرکات بـه ترازوهـای دیجیتلـی می‌توانـد زمینه‌سـاز ایجـاد یـک رونـد گمرکـی دقیـق، شـفاف، سـریع و قابـل نظـارت شـده و نقـش مهمـی در بهبـود مدیریـت تجـارت و افزایـش اعتمـاد تاجـران و مـردم بـه خدمـات گمرکـی داشـته باشـد.

**با احترام**

**اداره**

## د ماليې وزیر د ایران د کرنې له وزیر سره وکتل



د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزیر ښاغلي حاجي ملا محمد ناصر اخوند د ایران اسلامي جمهوریت د کرنې له وزیر ښاغلي غلام رضا نوري او مل پلاوي سره د کابل په انټرکانټیننټل هوټل کې وکتل. په دغه کتنه کې د دوه اړخیزو سوداګریزو او اقتصادي اړیکو پر لا پراختیا، د سوداګرو لپاره د لا ډېرو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د ګډ اقتصادي کمېسیون د ناستو پر پیلولو، د افغانستان له لارې منځنۍ اسیا ته د ټرانزیټ پر اسانتیا او څینو نورو مهمو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې. په پیل کې د ماليې وزیر د ایران اسلامي جمهوریت پلاوي ته له ښه راغلاست وروسته وویل، چې افغانستان او ایران د ګډو مشترکاتو څخه برخمن ګاونډیان دي او دواړه هېوادونه تاریخي اړیکې لري، نو اړینه ده؛ څو د سوداګرۍ په برخه کې شته خنډونه له منځه ولاړ شي، د صادراتو او وارداتو بهیر لا تقویه شي او د کرنې، انرژۍ، بانکي او اقتصادي برخو کې اړینه همغږي او همکاري لا پیاوړې شي. ښاغلي ملا محمد ناصر اخوند د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ او د ګډ اقتصادي کمېسیون له لارې یې د اغېزمنو او مثبتو اړیکو پر ټینګولو ټینګار وکړ. د ایران اسلامي جمهوریت د کرنې وزیر وویل، چې هېواد یې له افغانستان سره مثبتې سوداګریزې او اقتصادي اړیکې غواړي او مونږ د سوداګرۍ د پراختیا او د کرنې برخه کې د اړینو تجربو شریکولو او لازمو همکاریو ته چمتو یو. نوموړي زیاته کړه، چې هېواد یې د افغانستان له لارې منځنۍ اسیا ته د ټرانزیټ د پراختیا غوښتونکی دی او په دې برخه کې به ګډو هڅو ته دوام ورکوي. ښاغلي نوري هیله څرګنده کړه، چې د ګډ اقتصادي کمېسیون له لارې به د ستونزو د حل او د اړیکو لا پراختیا ته ښه زمینه برابره شي. د یادونې وړ ده، چې د افغانستان اسلامي امارت او د ایران اسلامي جمهوریت ترمنځ دوه اړخیز اقتصادي کمېسیونونه د اقتصادي، تجارتي او کرنیزو همکاریو د پراختیا، ټرانزیټي اسانتیاوو، د صادراتو او وارداتو د ودې، ګډې پانګونې او د ګډو مسلکي همکاریو د دوام په برخو کې ګډ کار کوي؛ ترڅو یاد موضوعات په ښه ډول عملي شي.

## په یو شمېر ګمرکونو کې د (۳۷،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت د امنیتي کېمرو د نصبولو چارې پیل شوې



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري د هېواد په څلورو ګمرکونو کندوز، بلخ، نائب‌آباد او کابل ګمرک کې د شاوخوا (۳۷،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت د امنیتي کېمرو د نصبولو چارې پیل شوې. په دې پروژه کې به په یادو ګمرکونو کې د بېلابېلو ډولونو (۳۷۰) امنیتي کېمرې نصب او فعالې شي، چې په فعالېدو سره به یې د ګمرکونو د امنیت لا ټینګښت ترڅنګ، د ګمرکي سرغړونو او احتمالي پېښو د مخنیوي، څارنې او کنټرول په برخو کې هم د پام وړ بدلون رامنځته شي. د یادونې وړ ده، چې د دې پروژې لګښت د ماليې وزارت له پراختیایي میزانیې (بودیجې) څخه ورکول کېږي او د پروژې د پلي کولو چارې د یوه افغاني شرکت له لوري ترسره کېږي.

## د کندهار او فراه په ګمرکونو کې د لوړ تناژ تلې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري سوداګرو ته د لا زیاتو اسانتیاوو برابرولو او د ګمرکي طی مراحلو د چټکتیا په موخه د کندهار او فراه په ګمرکونو کې د (۲۶) میلیونه افغانیو په ارزښت د لوړ تناژ دري تلې نصب او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. له دغو تلو څخه یوه یې د کندهار په محصولي ګمرک او دوې نورې یې د فراه په ګمرک کې نصب شوې دي. د هرې تلې په څلورو خواوو کې د لا ښه نظارت او کنټرول په موخه پنځه امنیتي کېمرې هم لګول شوې دي، چې د وزن د معلومولو په پارچه کې د موټر د انځور چاپولو وړتیا لري. هره تله د(۱۲۰) ټنه وزن معلومولو ظرفیت لري، چې (۲۲) متره اوږدوالی او (۳) متره پلنوالی لري. همدارنګه د تلو د لا ښې ساتنې په موخه د هرې تلې لپاره سایوانونه هم جوړ شوي دي. د دغو تلو په فعالېدو سره به د سوداګریزو محمولو د دقیق وزن معلوملو ترڅنګ د اضافه وزن او د ګمرکي عوایدو د ضایع کېدو مخنیوی وشي او د سوداګریزو توکو د ګمرکي طی مراحلو په بهیر کې به لا زیاتې اسانتیاوې رامنځته شي. د یادونې وړ ده، چې د دغې پروژې لګښت د ماليې وزارت له پراختیایي میزانیې (بودیجې) څخه ورکړل شوی او د تلو د نصب او فعالولو چارې د یوه افغاني شرکت له لوري ترسره شوې دي.




هیئت وزارت مالیه برای ارزیابی و نظارت از اجراآت مستوفیت‌ها، گمرکات و بانک ها به ۹ ولایت شمالی سفر کرد

م ۲



د ماليې وزارت او نفت او ګازو امارتي شرکت ترمنځ د همغږۍ ناسته وشوه

م ۲



د تورغونډۍ بندر لپاره د کمپلکسي تأسیساتو د جوړولو اساسي پلان چمتو او پلی کېږي

م ۲



د افغانستان د کورنیو محصولاتو پېژندنه، بازارموندنه او ستونزې

م ۳



د ماليې وزارت او د رحمت ۱۰۱ بستریز روغتون ترمنځ د همکاریو هوکړه لاسلیک شوه

م ٤



د روان کال په دویمه ربعه کې د ترسره شویو ګمرکي چارو تخنیکي ارزونه وشوه

م ٤

# هیئت وزارت مالیه برای ارزیابی و نظارت از اجراآت مستوفیت‌ها، گمرکات و بانک ها به ۹ ولایت شمالی سفر کرد

هیئتی از وزارت مالیه به ریاست حاجی عبدالقدیر احمد معین مالی این وزارت، به منظور ارزیابی و نظارت از اجراآت مستوفیت ها، گمرکات و بانک های امارتی، به (۹) ولایت شمالي کشور شامل فاریاب، بلخ، سمنگان، جوزجان، سرپل، بدخشان، تخار، بغلان و قندز سفر کرد.

در جریان این سفر معین مالی وزارت مالیه با مسئولان ادارات یاد شده دیدار و پیرامون حفاظت و نگهداری از بیت‌المال، چگونگی مصرف شفاف و اصولی منابع مالی، جمع آوری دقیق و شفاف عواید، تقویت هماهنگی میان ادارات مالی و سایر ادارات ولایتی و بهبود نظام مالی گفت وگو و تبادل نظر کرد.

همچنان در این دیدارها بر کنترول و تطبیق مؤثر




مصارف مالی، رعایت اصول و مقررات مالی و اجرای دقیق احکام و فرامین رهبری تأکید صورت گرفته و به مسئولان مربوط توصیه شد تا در انجام امور، ضمن رعایت اصول اداری و مالی، با مردم برخورد نیک و مسئولانه داشته باشند.

هیئت وزارت مالیه در جریان این سفر، مشکلات و پیشنهادات مسئولان ولایتی را نیز استماع کرده و بر رسیدگی اصولی و به موقع به مشکلات مطرح شده اطمینان داد.

در حاشیه این سفر، جلسات جداگانه با اتحادیه ها و تاجران ولایات یاد شده برگزار گردید. در این نشست ها، پیرامون روند حل و فصل منازعات مالیاتی، چگونگی رسیدگی به مشکلات مالیاتی و آگاهی دهی در زمینه حقوق و مکلفیت های مالیاتی بحث و معلومات لازم با تاجران و اعضای اتحادیه ها شریک ساخته شد.

# د ماليې وزارت او نفت او گازو امارتي شرکت ترمنځ د همغږۍ ناسته وشوه

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين الحاج ملا نعمت الله حسن په مشرۍ د گمرکونو او عوايدو معينيت او نفت او گازو امارتي شرکت ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ ناسته وشوه.

په پيل کې د عوايدو او گمرکونو معين گډونوالو ته د ښه راغلاست ويلو ترڅنگ د ناستې پر اهميت خبرې وکړې.

وروسته د نفت او گازو امارتي شرکت د مسئولينو له لوري د افغانستان د تېلو، گازو او مشتقاتو د اوسني بازار، په ياد بازار کې د شرکت د ونډې، د تېلو او گازو د وارداتو، ذخيره کولو او بازار ته د وړاندې کولو د موجوده ظرفيتونو په اړه معلومات وړاندې شول. سربېره پر دې د (۱۴۰۵ او ۱۴۰۶) هـ.ل مالي کلونو لپاره د نفت او گازو امارتي شرکت تجارتي پلان، په بازار کې د تېلو، گازو او مشتقاتو د بيو د نوسانات و عمده عوامل، د بازار د بيو د ثبات او منظمې وړاندې کونې په برخه کې د شرکت د رول او وړانديزونو په اړه مفصل پريزينټېشن وړاندې او هر اړخيز بحث وشو.

د ناستې په لړ کې د نفت او گازو امارتي شرکت د فعاليتونو پر وړاندې د شته ستونزو او خنډونو، د فعاليتونو د پراختيا لپاره د اړتيا وړ اساسي اقداماتو او د ماليې وزارت له لوري د ممکنه همکاريو او اسانتياوو په اړه هم د نظرونو تبادله وشوه.



په پای کې د عوايدو او گمرکونو معين د نفت او گازو امارتي شرکت له مسئولينو سره په اړوندو برخو کې د هر ډول لازمې همکارۍ او همغږۍ ډاډ ورکړ او ټينگار يې وکړ، چې د اړوندو چارو د ښه تنظيم او پرمختگ په موخه دې لازم اقدامات ترسره شي.

# نشست هماهنگی با اتحادیه مؤسسات دایر گردید

نشست همکاری و هماهنگی میان ریاست عمومی عواید وزارت مالیه و اتحادیه مؤسسات تحت ریاست الحاج مولوی سفرمحمد سحر رئیس عمومی عواید و با حضور معاون تخنیکی عواید، آمرین مربوط و نمایندگان اتحادیه مؤسسات برگزار گردید.

در آغاز رئیس عمومی عواید گفت که امارت اسلامی به منظور حل مشکلات مالیه دهندگان و تسهیل امور مالیاتی سهولت‌های لازم را ایجاد نموده است و برای رسیدگی به مشکلات تمامی مالیه دهندگان، آماده همکاری لازم میباشد. وی تأکید ورزید که مؤسسات باید به منظور تنظیم بهتر امور مالیاتی افراد مسلکی و شایسته را معرفی نمایند و اسناد مورد نیاز را به موقع و واقعی به اداره مالیاتی ارائه نمایند تا امور مالیاتی آنان بدون تأخیر و موانع صورت گیرد.

در این نشست در مورد نظام مالی مؤسسات و مؤسسات غیر دولتی، عواید و مصارف حقیقی، پروژه‌ها و قراردادها، قراردادهای بیمه صحی کارمندان با سایر ادارات و نهادها، قراردادهای مربوط به جایدادهای کرایی و ثبت و پروسس مالیاتی آن بحث و تبادل نظر صورت گرفت. همچنان در مورد ارائه معلومات به موقع و اسناد مورد نیاز از سوی مؤسسات غیرانتفاعی به اداره مالیاتی، جلوگیری از تأخیر در روند تصفیه مالیاتی، چگونگی دریافت معافیت‌های مالیاتی و نحوه انجام مکلفیت‌های مالیاتی مربوطه نیز بحث صورت گرفت.

در آخر اشتراک کنندگان نشست نظریات و پیشنهادات خویش را در مورد موضوعات متذکره در میان گذاشته و مسئولین مربوطه به سوالات آنان توضیحات لازم ارائه دادند و رئیس عمومی عواید از حل مشکلات مؤسسات و همکاری همه‌جانبه در بخش امور مالیاتی اطمینان داد.

# د عوايدو لوی رياست او د روغتونونو اتحاديې ترمنځ د همغږۍ ناسته وشوه

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رئيس الحاج مولوي سفرمحمد سحر په مشرۍ، د عوايدو لوی رياست او د روغتونونو اتحاديې ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ ناسته د عوايدو تخنيکي مرستيال، د عوايدو د بررسۍ رئيس، د ماليه ورکوونکو د خدمتونو د وړاندې کولو رئيس او د روغتونونو د استازو په گډون ترسره شوه.

په پيل کې د عوايدو لوی رئيس د ناستې پر اهميت خبرې وکړې او زياته يې کړه، چې د ماليات و په برخه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) له لوري روغتونونو ته ورکړل شوي تخفيفونه او اسانتياوې د پام وړ دي او مسئولين يې بايد له دغو اسانتياوو څخه په گټې اخيستنې خپل مالياتي مکلفيتونه پر وخت ترسره کړي، همدارنگه نوموړي ټينگار وکړ، چې ماليه د هيواد د آبادۍ او د عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره راټولېږي او ټول ماليه ورکوونکي بايد د ماليات و ورکړې په برخه کې همکاري وکړي.

وروسته د عوايدو تخنيکي مرستيال د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) له لوري په مالياتي برخه کې د ورکړل شويو تخفيفونو او اسانتياوو په اړه مفصل پريزينټېشن وړاندې کړ.

د ناستې په ترځ کې د روغتونونو د مالي نظامونو (سيستمونو)، حقيقي عوايدو او مصارفو، له نورو ادارو او بنسټونو سره د روغتونونو د قراردادونو او پروژو، همدارنگه د صحي بيمو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه، چې په پای کې د ناستې گډونوالو د يادو موضوعاتو په اړه خپل نظريات او وړانديزونه هم شريک کړل.

# د امارتي املاکو عمومي رئيس يو شمېر ولايتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د امارتي املاکو عمومي رئيس الحاج حافظ عبدالقدير حقاني، د يوه مسلکي پلاوي په ملتيا بلخ، جوزجان، فارياب او سمنگان ولايتونو ته رسمي سفر وکړ.

د دغه سفر موخه د امارتي جايدادونو وضعيت له نږدې ارزول، د شته ستونزو روښانه کول او ورته د حل لارې چارې موندل او په ټوله کې له شته فرصتونو څخه په گټې اخيستې سره د امارتي جايدادونو لا ښه او اغېزمن مديريت ته د زمينې برابرول دي.

ياد پلاوي د اړوندو ولايتونو له مستوفيانو او




کارکوونکو سره جلا جلا ناستې وکړې، چې په ترڅ کې يې د امارتي جايدادونو د ثبت، ساتنې، مديريت، پانگونې او همدارنگه د جايدادونو د غصب د مخنيوي په اړه هر اړخيز بحثونه وشول.

په پای کې د امارتي املاکو عمومي رئيس الحاج حافظ عبدالقدير حقاني، له لوري د وضعيت د لا ښه والي په موخه مشخص وړانديزونه او سپارښتنې وړاندې شوې؛ څو په راتلونکي کې د امارتي جايدادونو د خوندي ساتنې او اغېزمن مديريت لپاره عملي او دوامداره گامونه پورته شي.

# د تورغونډۍ بندر لپاره د کمپلکسي تأسيساتو د جوړولو اساسي پلان چمتو او پلي کېږي




د ماليې وزارت د امارتي املاکو عمومي رئيس الحاج حافظ عبدالقدير "حقاني" د بېلابېلو امارتي ادارو د استازو په گډون هرات ولايت ته رسمي سفر وکړ.

د دغه سفر موخه د رياست الوزراء عالي مقام د حکم پر بنسټ، د تورغونډۍ بندر لپاره د سرحدي معيارونو په پام کې نيولو سره د کمپلکسي تأسيساتو د جوړولو ځانگړی اساسي پلان ترتيب او پلي کول دي.

ياد پلان به د املاکو، اقتصادي او امنيتي اړخه په بندرونو کې د نظم راوستلو لپاره د هر ډول خدمتونو، اړتياوو او شته ستونزو ته ځواب ويونکی وي.

د دغه سفر په ترځ کې د ياد بندر لپاره د يو معياري، جامع او د تطبيق وړ اساسي پلان د چمتو کولو په موخه له بېلابېلو برخو څخه ساحوي ليدنه ترسره او د شته وضعيت هر اړخيزه ارزونه وشوه.

همدا راز، د هرات ولايت له والي سره په همدې تړاو کاري ناسته وشوه، چې پکې د کمپلکسي تأسيساتو د جوړولو، د بندر د اداري، اقتصادي او امنيتي چارو د تنظيم او د شته ستونزو د حل او د اړوندو ادارو ترمنځ د اغېزمنې همغږۍ د پياوړتيا په اړه هر اړخيز بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

# د ماليه ورکوونکو د شکايتونو اورېدلو رياست رئيس او مل پلاوي يو شمېر ولايتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معينيت د ماليه ورکوونکو د شکايتونو د اورېدلو رئيس او مل پلاوي د ماليه ورکوونکو د عريضو او شکايتونو د څېړنې او د هغوی د ستونزو د اورېدلو په موخه کندوز، بلخ او سرپل ولايتونو ته سفر وکړ.

ياد پلاوي د دريو عريضو د څېړنې په موخه، چې دوه يې د حکمي اشخاصو او يوه يې د حقيقي شخص اړوند وه، يادو ولايتونو ته سفر وکړ. د دغو عريضو موضوع د ماليه ورکوونکو له لوري د ټاکل شويو ماليات و په اړه د اعتراض او د ماليې د اندازې د بياکتنې غوښتنه وه.

د سفر پر مهال پلاوي د يادو عريضو او شکايتونو د څېړنې په موخه د اړوندو مستوفيتونو له مسؤلينو سره وکتل او د موضوع په اړه يې لازم معلومات او اسناد ترلاسه کړل. وروسته يې له عريضه‌کوونکو سره ليدنه وکړه، د هغوی ستونزې او غوښتنې يې واورېدلې او د مطرح شويو موضوعاتو د لا روښانتيا په موخه يې لازمې څېړنې او ارزونې ترسره کړې.

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معينيت د ماليه ورکوونکو د شکايتونو د اورېدلو، د هغوی د ستونزو د قانوني او عادلانه حل او د مالياتي چارو د لا ښه تنظيم په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

محمد ضمیر ستانکزی د اړیکو او
عامه پوهاوي ریاست د همغږۍ مدیر

# د افغانستان د کورنیو محصولاتو پېژندنه، بازارموندنه او ستونزې

SHTAMANI
اوونیزه

... دوام

## لاسي صنایع

لاسي صنایع د هېواد د لومړنیو ضرورتونو په پوره کولو کې رغنده رول لوبوي. افغانستان د لاسي صنایعو په تولید کې نړیوال شهرت لري، چې ښه مثال یې د افغانستان غالۍ دي، چې له نړیوال شهرت څخه برخمنې دي. افغانستان ځکه کولای شي، چې د لاسي صنایعو په برخه کې ګټور تمام شي؛ ځکه کوم خام مواد، چې په دې برخه کې په کار وړل کېږي هغه په کور دننه شتون لري او دا اړتیا نه پېښېږي، چې خام مواد له بهر څخه وارد شي.

## توریزم/ ګرځندوی

توریزم یا ګرځندوی د نړۍ له لوړ عاید لرونکو صنعتونو څخه شمېرل کېږي، چې د اقتصادي ودې، د فرهنګونو په تبادلې او د هېوادونو ترمنځ د اړیکو په پیاوړتیا کې مهم او رغنده رول لوبوي، دا چې پخوا د ناامنۍ او جنګونو له کبله افغانستان له دې صنعت څخه بې برخې پاتې وو او نړیوالو سیلانیانو هم زړه نه ښه کاوه، چې افغانستان ته په سیلانۍ راشي، اوس پکار ده، چې له رامنځ ته شوي امنیت څخه عظیمه ګټه واخیستل شي او نړیوالو سیلانیانو ته لازمې آسانتیاوې رامنځته شي؛ ترڅو د دوی له لارې د افغانستان هغه بد تصویر، چې په تېرو څو لسیزو کې د جګړو او منفي تبلیغاتو له وجې رامنځته شوی وو بدل شي.

بازار موندنه څه ته وایي؟

د امریکا د بازار موندنې ټولنې بازار موندنه دا ډول تعریف کړې ده:

بازار موندنه د ادارو او پروسو له ټولګې څخه عبارت ده، چې د وړاندیزونو جوړولو، اړیکو نیولو، وړاندې کولو او تبادلې لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي او د پېرودونکو، مراجعینو، شریکانو او په ټوله کې ټولنې لپاره ارزښت لري.

بازار موندنه یا مارکېټینګ هغه بهیر دی، چې پکې یو تولید د پېرېدونکې اړتیاوو ته چمتو شي، تبلیغ شي او پلورل کېږي او حتی کورنیو تولیداتو ته دا زمینه برابره شي؛ ترڅو تر نړیوالو بازارونو ورسېږي او نړیوالو بازارونو ته د تولید رسېدنه په دې معنا ده، چې دغه تولیدات د خپل هېواد له پولو واوړي او د نورو هېوادونو بازارونو ته یې دننه کړي.

نړیوالو بازار ته لاسرسی او ګټې یې؛

د عوایدو زیاتوالی: کله چې یو کورنی تولید نړیوال بازار ته صادر شي، نو د هغه بیه لوړېږي او بزګر، تجار او کسبګرو ته ښې ګټې پاتې کېږي. په دې شرط چې نړیوال بازار ته د رسېدو لپاره د تولید کیفیت تر ډېره لوړ وي. دا کار بزګران، سوداګر او کسبګر هڅوي چې عصري کرنه او په نړیوالو معیارونو محصول تولید کړي او ډېر عاید ترلاسه کړي.

اقتصادي پراختیا: صادرات د هېواد د بهرنیو عوایدو او بهرنیو اسعارو یوه مهمه سرچینه ده، چې له دې امله یې د هېواد اقتصاد پیاوړی کېږي او په اقتصادي سیکټور کې پر خپلو پښو درېږي. نړیوالو بازارنو ته د لاسرسي لپاره باید بزګران، سوداګر او کسبګر لاندې مهم منل شوي نړیوال معیارنه په پام کې ونیسي.

کیفیت او معیارونه: که چېرې یو بزګر، سوداګر او کسبګر غواړي، چې په نړیوال مارکېټ کې خپل نوم او مقام ثابت کړي باید د هر هېواد د غوښتنو مطابق هغوی ته اجناس وړاندې کړي.

بسته بندي او نښه جوړونه (برنډینګ): یوه ښه بسته بندي د محصول ارزښت زیاتوي او د بازار پاملرنه جلبوي. همدارنګه نښه جوړونه خپل همېشنی هویت په مارکېټ کې ثابتوي؛ ترڅو په لوړه بیه وپلورل شي.

بازار پېژندنه: اړینه ده، چې تولیدوونکې یا بزګران په دې پوه شي، چې کوم هېواد څه ډول محصولات غواړي، په کومه بیه یې غواړي، په کوم کیفیت یې غواړي او په کوم وخت کې یې غواړي؛ ترڅو د بهرنیو فکټورنو له زیان څخه وژغورل شي.

د دولت ملاتړ: د صادراتو په برخه کې د دولت پالیسیو، تخنیکې مرستو او مشورو، او مالیاتي آسانتیاوو برابرول او د خصوصي سیکټور رغنده ونډه اړینه ده.

### اصلي ستونزې او ننګونې

د کورنیو تولیداتو پر وړاندې ګڼې ستونزې شتون لري، چې تر ټولو مهمې یې په لاندې ډول دي:

• د سړو خونو او معیاري ګودامونو نشتوالی: د تازه مېوو او سبزیجاتو د ساتنې لپاره د کافي سړو خونو نشتوالی د دې لامل کېږي، چې ډېر محصولات په لنډه موده کې خوسا شي.

• د پروسیس او بسته بندۍ کمزورتیا: ډېرې افغاني محصولات په خام شکل (پرته له پروسیس او معیاري بسته بندۍ) ګاونډیو هېوادونو ته صادرېږي او هلته د بل هېواد په نوم په نړیوال بازار کې پلورل کېږي.

• د برېښنا کمښت: دا چې افغانستان ډېره سلنه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو واردوي او نه شي کولای، چې خپل لګښت پوره کړي، د برېښنا کمښت هم د کورني صنعت په وده کې یو لوی خنډ دی.

• د بهرنیو تولیداتو سیالي: د افغانستان تولیدات په هغه کچه کې نه دي، چې له نړیوالو تولیداتو سره سیالي وکړي او هغه معیار پوره کړای شي، له همدې کبله دا هم د کورنیو تولیداتو د ودې او پرمختګ لپاره یو لوی خنډ دی.

• د خامو موادو کمښت: افغانستان یو وارداتي هېواد دی او د کورنیو محصولاتو د تولید لپاره هم نا چاره دی، چې باید خام مواد له بهره را وارد کړي، چې بیا د را واردولو پر مهال هم ګڼې ستونزې ورته پېښېږي. تر ټولو اړینه ستونزه دا رامنځته کوي، چې د تولیداتو قیمت لوړوي.



• د نړیوالو معیارونو او تصدیق پاڼو نشتوالی: د لابراتوارونو او نړیوالو سټنډرډونو د نشتوالي له امله افغاني محصولات په مستقیم ډول اروپا یا امریکا ته په اسانۍ نه شي صادرېدلای.

• د ټرانسپورټ او ټرانزیټ ستونزې: د صادراتي لارو تړل کېدل او د هوایي دهلېزونو په لګښتونو کې لوړوالی د سوداګرو لپاره ستر خنډونه دي.

• بانکي او مالي محدودیتونه: په نړیوال بانکي لېږد رالېږد کې ستونزې او د اسانتیاوو نشتوالی د سوداګرو او تولیدوونکو کار ټکنی کوي.

• افغان حکومت په رسمیت نه پېژندل: دا چې د افغانستان حکومت د نړیوالو له لورې په رسمیت نه دی پېژندل شوی، دا د دې سبب ګرځېدلی؛ ترڅو د افغانستان اقتصادي اړیکې له نړیوالو سره زیاتې پراخې نه شي او کورنیو محصولاتو ته د بازار موندنې په برخه کې خنډ رامنځته شي.

### د حل لارې چارې

د کورنیو تولیداتو په تولید مو څه خبرې وکړې، ستونزې او ننګونې مو په ډاګه کړې اوس باید د حل پر لارو چارو هم لږ رڼا واچوو.

### کیفیت او معیار:

هغه څه چې ټول صنعتګر او کسبګر باید ډېره پاملرنه ورته وکړي، هغه د تولیداتو او محصولاتو کیفیت او معیار دی، چې باید له بهرنیو محصولاتو سره سالم رقابت وکړي او د خلکو اړتیاوې په معیاري شکل پوره کړي. کورني تولیدات باید دا ځانګړتیاوې ولري، چې وکولای شي د بهرنیو محصولات ځای ډک کړي.

• د نړیوالو محصولاتو او خدماتو د معیارونو پوره کول: د افغانستان کورني محصولات او تولیدات باید دا وړتیا ولري؛ ترڅو د نړیوالو محصولاتو او تولیداتو معیار پوره کړي. کسبګر او صنعتګر باید دې ټکي ته ډېر پام وکړي او داسې محصولات او خدمات تولید یا وړاندې کړي، چې وکولای شي د نړیوالو محصولاتو ځای ډک کړي او په نړیوالو بازارنو کې یادو محصولاتو او خدماتو ته یو سالم رقیب و اوسي.

• د کورنیو او بهرنیو پانګونو جذب:

دا چې افغانستان د طبیعي زېرمو او کورنیو محصولاتو له پلوه ډېر غني هېواد دی، خو له بده مرغه تراوسه چې څرنګه پکار وه په دې برخه کې د پانګونې پرمختګ نه دی ترسره شوی، چې لاملونه یې ډېر دي؛ لکه: د مسلکي کادورنو نشتوالی، د کافي مالي سرچینو کمښت، نا امني او ځینې نور مهم عوامل. موږ داسې پانګوال لرو، خو له بده مرغه دوی زړه نه ښه کوي چې په خپل هېواد کې پانګونه وکړي. نو دولت ته پکار ده، چې هر ډول آسانتیاوې رامنځته کړي؛ ترڅو کورنۍ او بهرنۍ کمپنۍ او شرکتونه راشي او دلته پانګونه وکړي. له دې سره به هم د افغانستان طبیعي زېرمې کشف او استخراج شي، کورني محصولات به وده وکړي او په میلیونونو بیکاره افغانانو ته به د کار زمینه هم برابره شي

• بیروکراسي ختمول:

دولت ته په کار ده، چې صنعتګرو او کسبګرو ته لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي، غیر ضروري قوانین او طرزالعملونه، چې د دوی چارې له خنډ او ځنډ سره مخ کوي له منځه یوسي، د جواز ورکونې پروسې اسانه شي، د دوی شکایتونه واورېدل شي او ورته د حل لارې چارې وړاندې شي، د استفادې وړ برېښنا ورته چمتو شي، هغه دولتي ادارې چې په دې پروسو کې دخیلې دي باید په دوامداره توګه د هغوی فعالیتونه وارزول شي او تر ټولو مهمه دا ده، چې دوی ته باید دا تضمین ورکړل شي، چې د دوی شتمني به خوندي وي او دوی ته به هیڅ ډول ستونزه یا ننګونه د دولت له لوري نه رامنځته کېږي.

• د سړو خونو او معیاري ګودامونو جوړول:

ډېری وګړي دلته په زراعت او مالدارۍ بوخت دي او د خپلې کورنۍ لومړنۍ اړتیاوې له دې لارې پوره کوي، د سړو خونو او ګودامونو جوړول به د دې سبب شي، چې د دوی محصولات د ضایع کېدو مخنیوی وشي او هم به د دوی محصولات په سالمه توګه داخلي او نړیوالو بازارونو ته ورسېږي.

•داخلي او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی:

کورني خدمات او محصولات باید دا ظرفیت ولري، چې هم کورنی او هم نړیوال بازار په خپل تسلط کې راولي، کورني او نړیوال معیارونه پوره کړي، نورو محصولاتو او خدماتو ته سالم ټکر ورکړي، د خلکو غوښتنې پوره کړي، د دې ټولو ځانګړتیاوو په پوره کولو سره به د دې سبب شي، چې هم د هېواد په اقتصادي وده کې رول و لوبوي، هم د تولید په کچه کې زیاتوالی راشي، د کارموندنې فرصتونه به لازیات شي او هغه هېوادونه، چې خپلو تولیداتو ته ښه بازارونه لټوي، عموماً د قوي او با ثباته اقتصاد په جوړولو کې هم رغنده رول لوبوي.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داو طلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا در داو طلبی پروژه ( ۱۰ قلم اجناس تکنالوژی ریاست املاک امارتی) دارای نمبرتشخیصیه ۱٤۰۵/MOF/ ۲۷۸٤-NCB/Gکه به روش داوطلبی باز صورت می‌گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می‌گردد بدست آرند. تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۳۱/سنبله ۱٤۰۵/ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می‌باشد. تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۷/ میزان/ ۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهرمی باشد. آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی https://tenders.ageops.af ، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا شماره تماس دفتر:۰۲۰۲۹۲۴۱۵٦ و آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی‌شود.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا در داوطلبی پروژه ( اعمار ذخیره ارتفاعی در گمرك آقینه ولایت فاریاب) دارای نمبرتشخیصیه -NCB/W/۱٤۰۵/MOF ۲٦٤۳که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می‌گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می‌گردد بدست آرند. تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ۰٦/میزان /۱٤۰۵ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر می‌باشد. مکان: آدرس پشتونستان وات- وزارت مالیه – کابل- افغانستان منزل وشماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی https:// tenders.ageops.af ، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا شماره تماس دفتر:۰۲۰۲۹۲۴۱۵٦ و آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی‌شود.

## لیلام

وزارت مالیه به تاریخ ۱۴۰۵/۷/۱۱ به مقدار(۳۵) بیلر مبلایل سوخته را میخواهد به بلندترین قیمت به نفع امارت اسلامی لیلام نماید، داوطلبان میتوانند به تاریخ متذکره در اکادمی گمرکات حاضر و یا به شماره تلیفون (۰۲۰۲۹۲۴۱۴۰) به تماس شوند، پول تضمین، ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه موازی ۵۰ جریب زمین قلعچه خمدان واقع عقب حوزه هشتم پولیس مربوط ناحیه هشتم شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۴٦۵۰۰۰) افغانی به اعلان مزایده می سپارد، مدت ۵ سال . کوردینات (جی. پی. اس نمبر) ۳٤,۵۰۰۰۱۵ ٦۹,۲۲٤۲۹۳ اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۵/٦/۳۰ الی ۱۴۰۵/۷/۸ به مدت (۱۰) روز به ریاست عمومی املاك دولتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس:سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله ، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس: ( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)، مجلس داوطلبی ۱۴۰۵/۷/۹ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه تدارك ٦۰ عراده موترسایکل مورد نیاز قومندانی قطعه محافظت گمرکات دارای نمبر تخشخیصیه ۲۸٤۲-NCB/G/۱٤۰۵/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء میگردد بدست آرند. تاریخ مشخص آفرگشایی: ۰۸/ میزان/۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر مکان: آدرس: پشتونستان وات- وزارت مالیه- کابل- افغانستان منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦ آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

# شتمني SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: مولوی محب الله خطاب
مرستیال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



ربيع الثانی ۹ -۱۴۴۸ ل س | د وږي ۳۱ -۱۴۰۵ ل ل | د سپتمبر ۲۲ -۲۰۲٦ز | شپږم کال | ۱۷۰ گڼه | ٤ مخيزه | ۴


## د ماليې وزارت او د رحمت ۱۰۱ بستريز روغتون ترمنځ د همکاريو هوکړه لاسليک شوه

د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو رئيس عبيدالله ابو احمد او د رحمت (۱۰۱) بستريز روغتون د مالي مسئول عبدالاحمد غزنوي له لوري، د اداري تخنيکي همکاريو ټينګولو، روغتيايي خدمتونو ته د کارکوونکو د ښه لاسرسي او د درماني او حمايتي پروګرامونو اجراءکولو د همغږۍ په موخه د ماليې وزارت او دغه روغتون ترمنځ د همکاريو هوکړه ليک لاسليک شو.



د دغه هوکړه ليک پر بنسټ به د رحمت (۱۰۱) بستريز خصوصي روغتون د ماليې وزارت کارکوونکو او کورنيو ته يې په بېړنۍ، زړه، جراحۍ، اورتوپيدي او اعصابو، عمومي داخله او ماشومانو، ستوني او غوږونو، لپراسکوپي، ام آر آی، سيټي سکن او ايکسرې برخو کې د مسلکي معيارونو مطابق تر (۳۰) سلنې تخفيف پورې روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي.

د ماليې وزارت پر شرايطو برابر کارکوونکي به دغه روغتون ته ور معرفي او له خدمتونو څخه به يې برخمن کېږي.

د يادونې وړده، چې د دې هوکړه ليک په لاسليک کولو سره به د ماليې وزارت کارکوونکو او کورنيو ته يې معياري روغتيايي، بېړني او چټک خدمتونه وړاندې او د بيماريو له کبله د غيابت او بهرنيو هيوادونو ته د ناروغانو د درملنې لپاره د وړلو مخنيوی کوي.

## د روان کال په دويمه ربعه کې د تر سره شويو ګمرکي چارو تخنيکي ارزونه وشوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو عمومي رئيس الحاج مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د روان (۱۴۰۵) هـ.ل کال په دويمه ربعه کې په ګمرکونو کې د ترسره شويو چارو د تخنيکي ارزونې ناسته پر ليکه او حضوري بڼه تر سره شوه.

په دې ناسته کې د ګمرکونو لوی رياست عملياتي مرستيال، يو شمېر رئيسانو، آمرينو او د ويډيو کنفرانس له لارې د ولايتي ګمرکونو مسئولينو ګډون کړی وو. په پيل کې د ګمرکونو عمومي رئيس د چارو د لا ښه والي په موخه د ولايتي ګمرکونو مسئولينو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

وروسته د (۱۴۰۵)هـ.ل کال په دويمه ربعه کې په ګمرکونو کې د ترسره شويو فعاليتونو په تړاو تولیز راپور وړاندې شو؛ په دې موده کې د عوايدو راټولېدو، د هيواد په ټولو ګمرکونو کې ترسره شوې سوداګرۍ، د وارداتي توکو ګمرکي ارزښت او د سوداګريزو محمولو د شمېر او ثبت شوي وزن په اړه



غونډې ته بشپړ معلومات وړاندې شول.

همدارنګه د چارو د لا پرمختګ په موخه د ولايتي ګمرکونو د مسئولينو ستونزې او وړانديزونه واورېدل شول، چې د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل شو.

## د دعوت او ارشاد رياست له لورې د سيرت النبي (صلی الله عليه وسلم) ازموينه واخيستل شوه

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او د شکايتونو اورېدلو وزارت او د دعوت او ارشاد چارو د انسجام رياست د لارښوونې پر بنسټ، د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست تاکل شوې کمېټې د افغانستان په کچه د دغه وزارت د (مرکزي رياستونو، د ګمرکونو او عوايدو معينيت، مستوفيتونو او ولايتي ګمرکونو) له ټولو کارکوونکو څخه د سيرت النبي (صلی الله عليه وسلم) ازموينه واخيستل شوه.

دغه ازموينه د دعوت او ارشاد رئيس مولوي عبدالهادي سيف الخالد، د ازموينې کمېټې د غړو، علماوو، ناظرينو او خدمتي کارکوونکو تر څارنې لاندې په منظم او شفاف ډول واخيستل شوه.

د يادونې وړ ده، چې د دې ازموينې موخه د ديني پوهاوي د کچې او د سيرت النبي او د رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) د ژوند له طريقې سره د کارکوونکو د بلدتيا د کچې سنجول او ارزول دي او د دې ازموينې پايلې به ډېر ژر اعلان او هغه کسان چې تر ټولو لوړې نمرې يې ترلاسه کړې وي، وستايل شي.

## برنامه آموزشی تحت عنوان "امورات مالی و مدیریت کاربردی" برای کارمندان مستوفیت ها و گمرکات ولایات دایر گردید

ریاست امور کارکنان وزارت مالیه برنامه آموزشی را تحت عنوان "امورات مالی و مدیریت کاربردی" برای (۵۰) تن کارمند مستوفیت ها و گمرکات ولایات طی مراسمی در تالار اکادمی ملی عواید و گمرکات دایر نمود.

در این مراسم مفتی عبدالغفار سلیم رئیس هماهنگی و انسجام مستوفیت ها، حافظ آقا محمد ابونصیب آمر محاسبه ریاست مالی و حسابی، مفتی عبدالوهاب عابد، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان و شماری از مسئولین دیگر اشتراک ورزیده بودند.

آمر آموزش و ارتقای ظرفیت طی سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، از امکانات و فرصت که برای شما فراهم گردیده استفاده اعظمی نموده و با کسب مهارت های مسلکی بصورت عملی صادقانه و مخلصانه خدمت کنید. علاوه بر آن سفارش های مسئولین را مستقیماً شنیده و در ساحه کار آن را تطبیق نماید.

رئیس هماهنگی و انسجام مستوفیت های گفت، تلاش کنید با آنچه در اینجا آموختید مشکلات موجود را رفع کرده و از بیت المال حفاظت کنید. به عنوان نمایندگان امارت اسلامی تلاش نماید تصویر خوبی از نظام به مردم بجا بگذارید.

آمر محاسبه ریاست مالی و حسابی گفت، وظیفه و پست را که شما احراز کرده اید،




در نزد شما امانت است و تلاش نماید حق این امانت را بخوبی اداء کنید. در صورت حق امانت به درستی اداء می شود که از وظایف سپرده شده غفلت نکنید.

در ختم این مجلس به (۵۰) تن از کارمندان که از برنامه آموزشی مسلکی سازی "مدیریت استراتیژیک" فارغ گردیده بودند، تصدیقنامه اهدا گردید.


د افغانستان اسلامي امارت
د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

امارت اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آگاهی عامه

### د تثبيت شويو متقاعدينو د حقوقو د ورکړې شپاړسم نوبتي مهالوېش

د وږي۲۵مه ۱۴۰۵هـ.ل

د ماليې وزارت د تقاعد د حقوقو عمومي رياست د متقاعدينو د حقوقو د ورکړې شپاړسم نوبتي مهالوېش اعلانوي، چې له مخې به يې د روان (۱۴۰۵) هـ.ل کال د سنبلې (وږي) مياشتې له (۲۸) مې نېټې څخه له منظم مهالوېش سره سم، په نوبت سره د لاندينيو اتو ادارو د تثبيت شويو متقاعدينو د حقوقو ورکولو پروسه طی مراحل کېږي.

د لانديني ادارو قدرمن متقاعدين دې د تقاعد د حقوقو عمومي رياست ته له حضوري ورتګ څخه مخکې له (www.pension.af) ويبسايټ څخه نوبت ترلاسه او پر ټاکلي نوبت دې د خپلو حقوقو د طی مراحلو په موخه دغې ادارې ته مراجعه وکړي.

هغه قدرمن متقاعدين، چې د ادارې نوم يې په لانديني نوملړ کې شامل نه دی؛ مهرباني دې وکړي د تقاعد د حقوقو عمومي رياست ته دې مراجعه نه کوي!

| شمېره | د ادارې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان ا.ا د چارو اداري عمومي رياست | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۷/۲۸ |
| ۲ | د احصائيې او معلوماتو عمومي اداره | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۷/۲۸ |
| ۳ | د نفوسو د احوالو د ثبت عمومي رياست | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۷/۲۸ |
| ۴ | د افسوتر شرکت | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۷/۲۸ |
| ۵ | د صکوکو مطبوعه | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۷/۲۸ |
| ٦ | د ملي دفاع وزارت جګړنان | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۸/۲۸ |
| ۷ | د ملي امنيت عمومي رياست جګړنان | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۸/۲۸ |
| ۸ | د کورنيو چارو وزارت سمونياران | ۱۴۰۵/۰٦/۲۸ | ۱۴۰۵/۰۸/۲۸ |

د پاتې نورو ادارو نوملړ به په راتلونکي مهالوېش کې پر خپل نوبت سره اعلان شي.

### د ماليې وزارت د ګمرکونو عمومي رياست تل ستاسو په خدمت کې دی!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ!

اړيکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱



### د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای شي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره يې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لارې شريک کړي.

ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (۹۳+)
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af